بسم الله الرحمن الرحیم

# د نړۍ نفوس ۸ میلیارده شو

د ملګرو ملتونو تازه معلومات ښیي چې د ۲۰۲۲م کال نومبر په ۱۵مه د نړۍ نفوس ۸ میلیارده شو؛ دا چې د پاخه عمر لرونکو کسانو کچه په بیساري ډول لوړه شوې، اټکل کېږي چې تر راتلونکو ۱۵ کلونو به د نړۍ نفوس ۹ میلیارده شي. په وروستیو څو لسیزو کې ټولو څېړنو منلې چې نړۍ د نفوس له خورا ډېر ګڼوالي سره مخ کېږي. د نفوس بې کنټروله ودې ته د نړۍ نایابه زېرمې بسنه نه کوي او چاپېريال ویجاړوي. ډېر نفوس د خوړو او انرژۍ ډېرو سرچینو ته اړتیا لري، چې دا په خپل وار د نړیوالې تودوخې د زیاتېدو او نورو چاپېریالي ناورینونو د زیږېدو سبب کېږي. خو په ۲۱مه پیړۍ کې د نړۍ په کچه هېوادونه د نفوس له کمېدو او د امېندوارۍ له ټیټې کچې سره مخ دي. په ایټالیا کې زیږنتونونه د ټېل کېدو په حال کې دي. په چین کې ښارونه له خلکو په خالي کېدو دی. په سویلي کوریا کې پوهنتونونه د جذب لپاره په کافي اندازه محصلین نه شي پیدا کولی او په جرمني کې په سلګونو زره ویجاړ شویو ملکیتونو او ځمکو کې پارکونه جوړیږي.

تر ۱۸۰۴ پورې د نړۍ نفوس یو میلیارد ثبت شوی. ۱۲۵ کلونه وروسته دوه میلیارده شو. درې لسیزې وروسته په ۱۹۶۰ کې د نړۍ نفوس درې میلیارده و. تر راتلونکو ۴۰ کلونو د ۲۱مې پیړۍ په اوږدو کې د نړۍ نفوس دوبرابره شو او له ۳ څخه ۶ میلیاردو تنو ته ورسېد. په دغو کلونو کې هر کال ۷۱ میلیونه تنه اضافه کېدل. یوازې د نړۍ نفوس ډېر نه شو، بلکې د ودې کچه هم په تصاعدي ډول ډېره شوه. د نړۍ ۳۰ سلنه نفوس د افریقا په جنوبي صحرا، نایجریا او جنوبي آسیا کې دی. د نړۍ په نیم نفوس کې د امېندوارۍ کچه د پخوا په پرتله کمه شوې.

په ۲۱مه پیړۍ کې د زیږون کچه لوړه نه، بلکې ټیټه شوه. د ملګرو ملتونو معلومات ښیي چې له ۲۰۰۰ څخه تر ۲۰۵۰ کال پورې به د نړۍ د نفوس وده دوام وکړي، خو دا وده به د تېرو پنځوسو کلونو نیمایي وي. د دې پیړۍ په دویمه نیمایي کې به د نړۍ د نفوس د ودې کچه ۰-۱۰ سلنه وي. اټکل کېږي چې د ۲۰۰۰ او ۲۰۵۰ کلونو ترمنځ به د نړۍ نفوس په کال کې ۵۷ میلیونه زیات شي. د ۱۹۵۰ او ۲۰۰۰ کلونو ترمنځ د نفوس د ډېروالي کچه په کال کې ۷۱ میلیونه تنه وه، چې د اوس په پرتله ډېره وه. د ۲۱مې پیړۍ په یوه برخه کې به د نړۍ د نفوس د ودې اوسنۍ لوړه کچه ونه لیدل شي. سر له اوسه دا بدلونونه وینو. د زیږون ټیټه کچه د دې لامل شوې چې ځوان کارکوونکي د مخ پر زیاتېدو متقاعدینو ځای ډک نه کړي. اروپا او جاپان لا له وړاندې له دې ستونزې سره مخ دي. ډېری کسان دا اټکل هم کوي چې د نفوس وده به په اروپا کې ټیټه شي خو مجموعي کچه به یې د ودې په حال کې کوي، ځکه چې په درېیمه نړۍ کې د زیږون کچه لوړه ده. مګر د زیږون کچه په هر ځای کې د ټیټېدو په حال کې ده. د لومړۍ نړۍ هیوادونه د کم نفوس پر ژۍ ولاړ دي او نوره نړۍ ور پسې روانه ده. دا جمعیتي بدلون به د ۲۱مې پیړۍ د پاتې برخې بڼه وربدله کړي.

د امېندوارۍ قطعي شمېره د هرې ښځې پر سر ۲،۱ ماشومان دي. دا د ماشومانو هغه شمېره ده چې هره ښځه یې په اوسط ډول باید ولري، تر څو وکولی شي د نړۍ نفوس ثابت وساتلی شي. له دې شمېرې څخه ډېر زیږون د نړۍ نفوس ډېروي، او تر دې شمېرې کم د نړۍ نفوس کموي. د ملګرو ملتونو د معلوماتو له مخې په ۱۹۷۰ کې ښځو ۴،۵ ماشومان زیږول. په ۲۰۰۰ کال کې دا شمېره ۲،۷ ماشومانو ته راټیټه شوه.

دا کچه ټیټېدل ډراماټیک دي. د ملګرو ملتونو معلومات ښيي چې په ۲۰۵۰ کې به د امیندوارۍ نړیواله کچه د هرې ښځې پر سر ۲،۰۰۵ ته راټیټه شي. دا شمېره له ۲،۱ څخه چې د نړۍ نفوس ثابت ساتي، ټیټه ده. د ملګرو ملتونو بله وړاندوینه چې پر بېلابېلو ګمانونو ولاړه ده ښيي چې د هرې ښځې پر سر به د زېږېدو کچه ۱،۶ ماشومان وي. د ملګرو ملتونو سازمان چې معلوماتو ته ښه لاسرسی لري، اټکل کوي چې تر ۲۰۵۰ کال پورې به د نړۍ نفوس یا ثابت پاتې شي او یا به په ډراماتیک ډول ټیټ شي.

تر صنعتي کېدو وړاندې د یوې کورنۍ شتمني د هغو د ماشومانو په شمېر پورې تړلې وه. ډېر ماشومان په دې معنی وو چې ډېر کارګر لري چې په پټیو کې کار درته وکړي. کله چې فابریکې راغلې او د انسان ځای ماشین ونیو، دا حالت بدل شو. په تېرو دوه سوه کلونو کې د بشر د ټول تېر تاریخ په پرتله ټکنالوژۍ او ساینس پرمختګ کړی. اوس له اته کلنۍ مخکې د ماشومانو د مړینې کچه ډېره ټیټه شوې. ډیری ناروغۍ چې په ماشومتوب کې د مړینې لامل کېدې، اوس یې واکسین شته او دا چاره د دې سبب شوې چې د نړۍ نفوس چټکه وده وکړي. کورنۍ، ښځې او جنسي تمایلات د نړیوال اقتصاد او همداراز ډیرو مشتریانو -چې د دغه نړیوال اقتصاد چلوونکو په توګه کار کوي- د غوښتنو په ځواب کې بیا تعریف شوي. د نړیوال اقتصاد اړتیاوې او د مصرفونکو لپاره اړتیا؛ د ښځو رول او له دې لارې د کورنۍ جوړښت بدل کړی. ښځه نور د ماشومانو زیږول خپله دنده نه ګڼي، اوس خپواکې ښځې دي چې د ماشومانو زیږولو پرځای دنده پر مخ وړل او په اقتصاد کې لوی رول لرل خپله دنده بولي. د ښځو او ماشومانو ارزښتونه اوس پر فردپالنې او د ښځې پر اقتصادي ارزښتونو بدل شوي. برابري، فیمینیزم او د همجنسپالو ټولنه (LGBT) هغه مفاهیم دي چې د کورنۍ جوړښت یې ویجاړ کړ. ښځه د ماشوم زیږوونکې، د کور سمبالوونکې او خاوند نفقه راوړنکی؛ دا رول بلکل بدل شوی او په نړۍ کې د امیندوارۍ د کچې پر کمېدو یې اغیز کړی.

په داسې حال کې چې د نړۍ د نفوس د ودې کچه مخ پر کمېدو ده، په تېرو څو لسیزو کې په اسلامي نړۍ کې هم د امېندوارۍ کچه ټیټه شوې؛ خو تر اټکل شوې کچې ډېره ده او اسلامي نړۍ به له اندونیزیا تر مراکشه د ۲۱مې پېړۍ په پاتې برخه کې د نفوس وده ولري. مسلمانان د نورو لویو مذهبونو په پرتله ډېر ماشومان لري. هره مسلمانه ښځه ۳،۱ ماشومان زیږوي، دا د مسیحیانو (۲،۷) او ټولو نامسلمانانو (۲،۳) په پرتله لوړ شمېر دی.

له یوې پېړۍ چټکې ودې وروسته، د زیږون کچه ټیټه شوې او د پلان له مخې به تر ۲۰۲۰ کال وروسته نوره هم ورو شي. له دې اټکل سره سره به تر ۲۰۵۰ پورې په اسلامي نړۍ کې نفوس ډېر شي. په راتلونکي کې به له اسلامي هېوادونو پرته ډېر کم شمېر هېوادونه وي چې نفوس یې وده کوي. مخ پر ودې نفوس به اوبو، کورونو، عصري ټرانسپورټیشن او د کار بازارونو ته اړتیا ولري. د کار موندنو، په ځانګړي ډول دولتي دندو پر سر سیالۍ، بې کیفیته استوګنځایونه او د عمومي خدمتونو کمی د اوسني وضعیت په اړه د ټولنو د نارضایتی اصلي لاملونه دي. د نفوس له دغو فشارونو څخه زیږېدونکی سټرس او د دغو فشارونو په کمولو کې د سیمه‌ایزو هېوادونو رول به د اسلامي نړۍ د راتلونکي مسیر په ټاکلو کې مهم رول ولوبوي.

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## عدنان خان

**۱۴۴۴ هـ. ق، د ربیع الثانی ۲۲مه**

۲۰۲۲م کال د نومبر ۱۶مه